محمد معصوم هوتک ۲۰۱۸/۱۰/۲۶

# نیرنګ عشق

**په شعر کي د حميد مومند د کمال او جمال هنداره**

د حميد مومند نوم په پښتو ادب کي د هندي سبک د بنسټګر په توګه ثبت دئ. هندی سبک په هندوستان کي د ګورکاني شاهانو د واکمنيو پر مهال د فارسي ژبو شاعرانو پر لاس وزېږېد او وده ئي وکړه. د دې سبک اغېزې تر پښتونخوا پوري راورسېدې او د موجودو اسنادو له مخي لومړني پښتون شاعر چي دغه سبک ته ئي هرکلی ووايه او د خپل خدای ورکړي استعداد او عالي قريحي په برکت ئي د پښتو شعر په خواره بوښکي زېرمه کي له خوندورو تشبيهاتو، ادبي نزاکتو، شعري تلازماتو، او عالي پردازونو څخه ډکه اضافه را پرېښووله او د دغه رنګين سبک لار ئي پرانيستله، همدا حميد مومند دئ. د حميد مومند په لاس دغي پرانيستي لاري خو پيروان زيات وموندل، اما په نازکخيالی کي د ده ټينګ سوي ريکارډ ته ئي په هيڅ ډول خانونه ونسوای رسولای. زه په دې ليکنه کي د حميد د نامه، لقب او استوګنځای په باب، دغه راز د حميد د آثارو په لړ کي د نيرنګ عشق پر اصل او ترجمه باندي يو څو خبري له درنو لوستونکو سره شريکوم.

د حميد مومند له نامه سره زموږ په ليکلي ادب کي د (ماشوخېل) لقب داسي کوشير سوی دئ چي زموږ نقاد ځېړونکي ئي لا هم د يو راز مسلّماتو په توګه کاروي. ماشوخېل داسي يو نوم دئ چي هم د يوه پښتني اتنيکي هويت (مومند) په ذيلي ځانګو کي ياد سوی او هم پر يوه جغرافيايي واحد باندي اېښوول سوی دئ. په پښتني کلچر او تاريخ کي موږ نور هم داسي نومونه لرو چي مسماوي ئي هم قومونه وي او هم جغرافيايي سيمي. وردک هم قوم دئ، هم سيمه. شينواري هم د قوم له پاره کارېږي هم د يوې جغرافيايي محدودې له پاره. پخپله مومند هم قام ته ويل کېږي، هم يوې پراخي اورشو ته. ماشوخېل د مومندو قام د يوې وړوکي څانګي په توګه هم ليکلي حوالي لري او د پېښور لمر لوېدو خواته د يوه کلي نوم هم دئ. دا نوم که څه هم په ځينو ليکلو روايتو کي د مومندو سربنو د يوه ښاخ په توګه موندلای سو خو د انسابو په هغو جدولو کي زما نه دئ په سترګه سوی چي ليکلی ثبت ئي د يوولسمي هجري پېړۍ څخه د مخزن افغاني له لاري را پيل سوی او تر ننه ئي لا هم د تکرارولو عمليه دوام لري. ددغو جدولو د سموالي او ناسموالي له پاره د خورا ډېرو مستندو او علمي څېړنو اړتيا سته. مګر همدا جدولونه که " څه نه دي، بې څه هم نه دي" او د پښتني انسابو څېړونکي تر هغه وخته پوري چي په دغه اتنوګرافيکي څېړنه کي د توکمپوهني د علمي معيارونو پر بنسټ يوې وروستۍ فيصلې ته رسېږي، مجبوره دي پر همدغو چارټونو باندي زړه نازړه تکيه وکړي. زه له دې داړه چي د خپل مطلب له اورشو څخه ليري سوی نه يم، بېرته لنډ ( ماشوخېل) ته راګرزم. د يوه شاعر له نامه سره د لقب تړل به يا د ده د خپل کلام د داخلي شهادت پر بنسټ ولاړ وي، يا به د کوم بل مستند او پياوړي خارجي شهادت پر تاداو. د حميد مومند پخپل کلام کي موږ د ماشوخېل لقب نه مومو، فقط يو ځای ئي ويلي دي :

چي د عشق طاعوني رنځ د حميد مل شه
ژر بـه ښخ پـه هــديره شي د مــاشــو

(دُر او مرجان ـ ۷۳ مخ، پېښور)

د حميد د دغي وينا تر اغېزې لاندي د مستشرقينو او نورو شاعرانو او ليکوالو ذهن ته د (ماشوخېل) کلي نوم تداعي سوی دئ. د دغي اغېزې لومړی انعکاس د انګرېز مېجر هنري جيورج راورټي ( ۱۸۲۵ــ ۱۹۰۶ع) په (Selections from the Poetry of the Afghans) کي په ۱۸۶۲ع کال را پيل سو او حميد مومند ئي د ماشوخېل کلي اوسېدونکی وباله. راورټي تر دغه اثر پخوا د خپل پښتو ګرامر (چاپ ۱۸۵۵ع کلکته) د مقدمي په ۴۵ مخ کي د حميد په باب يادونه لري خو هورې ئي د ماشوخېل لقب ورسره مل کړی نه دئ او صرف " ملا عبدالحميد"


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

ئي بللی دئ. په دغه مقدمه کي ئي حميد د سدوزي تيمورشاه معاصر ګڼلی دئ چي څرګنده غلطي ده او د همدا تېروتنه تر ده وروسته هم تکرار سوې ده چي تاسي به ئي ولولئ.
تر راورټي وروسته قاضي ميراحمدشاه رضواني پخپل (بهارستان افغاني - چاپ ۱۸۹۸ع) کي وليکل :

بـيـا پـه دور د تـيـمورشـاه اودل دواره
مـاشـوخـېـلو کي راوخـــوت حميد خان
چي ئي وپېيل پـــه زور د طبيعت خيل
د الفاظو په (پر) ځای ستوري د اسمان

د قاضي مرحوم په دې دوو بيتو کي دري ګډوډی سته. لومړی خو حميد مومند د ابدالي تيمورشاه (۱۷۴۸ ـ ۱۷۹۳ع) د زماني شاعر نه دئ بلکي د مغولي پاچا اورنګزېب (۱۶۱۸ ـ ۱۷۰۷ع) د عصر سړی دئ. دوهم ئي د حميد له نامه سره د (خان) لقب راوړی دئ. دا لقب که د قافيوي اړتيا له مخي نه وي، نو د حميد له نامه سره ئي راوړل سم نه ښکاري. ځکه حميد پخپلو اشعارو کي د ځان د غربت او نېستي ډېر بيانونه لري. دريم ئي د (ماشوخېلو) په لقب کي صراحت نسته او هغه دا چي آيا د ده مراد قوم دئ که سيمه؟ که ئي احياناً مراد قوم وي نو په دې برخه کي هم د روايتو بېلابېلوالی سته. انګريز ختيځپوه مېجر راورټي (۱۸۲۵ ـ ۱۹۰۶ع) زموږ تر بحث لاندي شاعر حميد مومند په (Selections of the Poetry of the Afghan - p 85) چاپ ۱۸۶۲ع کي د مومندو له خدريزي (Kadrizi) ښاخ سره تړلی بللی دئ. د ده خپل بيان دئ :

"Abd-ul-Hamid, the author of the following poems, was born at Mashu Khel, a small village belonging to the Kudrizi clan, or branch, of the Afghan tribe of Mohmand, one of the purely Afghan tribes at present dwelling in the Peshawar district."

د مېجر راورټي دغه حکم هم يو بې استناده حواله ده. د پېښور پُرکاره محقق ښاغلي همېش خليل بيا په ورکه خزانه (اول ټوک ـ ۴۰۲ مخ) کي کښلي دي چي "... د ډېر معتبر داخلي او خارجي شهادت له رويه مونږ دا وئيلی شو چه حميد په قوم د باړي مومند وو...." ده که څه هم د دغه " ډېر معتبر داخلي او خارجي شهادت" تشريح ئي نه ده راوړې خو په قول ئي خدريزي ښاخ ته د حميد مومند انتساب چلينج کېدلای سي.

تر ميراحمد شاه رضواني وروسته نورو منل سوو شاعرانو لکه قلندر، عبدالعظيم رانيزي،استاد حمزه شينواري او نورو هم دا لقب تکرار کړی دئ. خو په دوی کي د سوات عبدالعظيم رانيزي او استاد حمزه شينواري پر (ماشوخېل) باندي نسبتي سوفيکس ور زيات کړی دئ او په ترتيب سره ئي حميد " ماشو وال" او " ماشوخېلی" بللی دئ چي له اول څخه د (ماشو) اوسېدونکی او له دوهم څخه د (ماشوخېل) اوسېدونکی فهمول کېږي.تر دې وروسته چي نورو محتاطو څېړونکو ته چي د مومندوله ماشوخېل ښاخ او د پېښور په شاوخوا مضافاتو کي له (ماشوخېل) کلي سره د حميد مومند تړل مستند روايتونه نه دي ايسېدلي، نو ئي د علمي احتياط له مخي دونه قدر ليکلي دي چي حميد مومند په ماشو خېلو کي اوسېدلی دئ. په داسي حال کي چي په (ماشوخېل کلي) کي د حميد استوګنه هم د راورټي له خولي بې سنده خبره وه.

د دې ماشوړې د خلاصولو له پاره د پېښور محققينو، اجمل ختک، دوست محمد خان کامل، خيال بخاري او ډاکټر انوارالحق په ۱۹۴۹ع کال يو لړ څېړنيزي مقالي وکښلي چي په هغو کي ئي (ماشوخېلو) ته د حميد مومند د انتساب خبره وڅېړله او نتيجه ئي داسي تر لاسه کړه چي د حميد په خپل کلام کي د "ماشو" له نامه څخه مراد ماشوخېل کلی نه دئ، بلکي مقصد ئي "ماشوګګر" کلی دئ چي د پېښور اوسېدونکي ئي اوس هم (ماشو) بولي. دا کلی له پېښور ښار څخه زيات و کم نهه ميله ليري پر کوهاټ روډ باندي پروت دئ (ورکه خزانه ـ ۱ / ۴۰۲).د دې سخرغوټې د لا سپړلو په نيامت اروابناد اجمل ختک په هماغه وخت کي "ماشوګګر" کلي ته ولاړ. اجمل ختک د خپل دغه سفر د مشاهداتو لومړی برخه اته نهه کاله وروسته په (رهبر) مجله ( ۲۳ګنه ، ۱۲ ـ ۱۳ مخونه ، ۱۹۵۸ع کال) کي خپره کړله چي دغه برخه ئي زما مخ ته همدا اوس پرته ده. اجمل ختک په دې ليکنه کي وايي: " دا د کال نولس سوه يوکم پنځوسم د مئ د ورځو شپو خبره ده. زه د پېښور رېډيو کښي نوکر ووم او بالا مانۍ [کښي]اوسېدم... دوست محمد خان کامل صاحب به بالامانۍ ته اکثر تلو راتلو.... يوه ورځ زه او کامل صاحب د فارغ صاحب سره ناست وو د پښتو په ادب او تاريخ مو خبرې اترې کولې... ماته کامل صاحب اووې چه نور خو نور تاهم خپله مقاله کښي د حميد بابا (رح) په حقله څرګنده غلطي کړې ده. دادی د حميد بابا کلی د دې ځايه څو ميله لرې پروت دی او تاهم پخپله دا نه دی معلوم کړی چه حميد بابا د ماشوګګر وو که د ماشوخېلو او د نورو په تقليد کښي دی ليکلي دي چه حميد بابا د ماشوخېلو وو، او حال دا چه دا نازک خيال شاعر د ماشوګګر دی" . اجمل ختک تر دې وروسته زياتوي چي دی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

د نومبر پر لسمه سهار پر سائيکل باندي ماشوګګر ته روان سو. هورې ئې د حميد د کور کهول او قبر په باب لټوني وکړې. د دغو هلوځلو په نتيجه کي ئې د حميد مزار پيدا کړ او وروسته ځينو خواخوږو دغه مزار له خوار زار حالت څخه راوايست او پوخ قبر ئې ورباندي جوړ کړ چي تر ننه ئې مزار ته علاقمندان ورځي او مشاعرې پر جوړوي.
د اروابناد دوست محمد خان کامل له خولي مستقيم روايت داسي دئ چي "د ماشوګګر د بهلول زو په هديره کي د حميد په نامه قبر جوړ شوی دئ.... بهلول زي په عامه اصطلاح خلک بالړزي تلفظ کوي." (وګ: د عبدالحميد مومند دېوان ـ سريزه ـ ۲۱ مخ، ۱۳۶۳ هـ ش ـ کابل)

د حميد مومند دېوان کومي خطي نسخي چي تر اوسه موږ ته د کورنيو او بهرنيو فهرستو او کتلاکو له مخي معلومي دي، په هغو کي کاتبانو د حميد له نامه سره (ماشوخېل) لقب نه دئ ليکلی. خو په مقابل کي بيا د نيرنګ عشق د هغي خطي نسخي په پای کي چي په کابل پوهنتون کي خوندي وه، داسي ليکل سوي دي :"... هذه القصة المشرفة المکرمة... انيس العلماء اخوند عبدالحميد مرحوم متوطن ګګر...." ( وګ : د عبدالحميد دېوان ـ سريزه ـ ۱۰۳ مخ). دغه راز د نيرنګ عشق د هغي چاپي نسخي پر لومړی پاڼه چي په ۱۲۸۴هـ ق کال د پېښور په مصطفايي مطبعه کي چاپ سوی دئ " تاليف د عبدالحميد مومند د ماشوګګر" ليکل سوی دئ. ( وګ : د عبدالحميد دېوان ـ سريزه ـ ۹ مخ)

تر دغو څېړنيزو فعاليتو او ليکنو وروسته چي ما ئې يادوني وکړې، بيا هم د حميد مومندله نامه سره د (ماشوخېل) لقب تړلو اعتياد تر اوسه لا هم روان دئ او له بده مرغه زموږ مشهور محققين ئې لا هم پسي پالي. زما له زلميو ليکوالو او څېړونکو څخه هيله داده چي نور د حميد مومند له نامه سره دغه غيرلازمي لقب ونه تړي.
حميد مومند د اشعارو يو خوندور دېوان لري. دغه راز ئې د فارسي نيرنګ عشق او شاه ګدا کيسي په پښتو نظم ژباړلي دي او د شرعة الاسلام په نامه ئې يو بل متنازع فيه اثر هم د پوهاند علامه رشاد پر لاس را ښوول سوی دئ. زما د دې ليکني موضوع د نيرنګ عشق څېړنه او پلټنه ده. لومړی به د دغه داستان پر فارسي اصل او د هغه پر ناظم ورغېږم

(نوربيا)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ